بسم الله الرحمن الرحیم

ستره محکمه

# جریده میزان

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

شنبه ۲۲ وږی ۱۴۰۴ هـ ش | ۲۰ ربیع الأول ۱۴۴۷ هـ ق | ۱۳ سپتامبر ۲۰۲۵ م | مسلسله شمېره (۱۱۰)


**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمایي:

ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله یې اېښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.

زیاتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وای نو د نړۍ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.

تفسیر کابلی، ج ۲، ص ۱۳۰۳

## د قضائي تفتیش عمومي ریاست مفتشینو د جنوب لوېدیځ زون اړوند هرات ولایت له محاکمو او مرکزي زندان څخه لیدنه وکړه

د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله تعالی) او د سترې محکمې د محترم عالي مقام د شفاهي هدایت په اساس د مرکزي تفتیش عمومي ریاست او د جنوب لوېدیځ زون د تفتیش ریاست ګډ پلاوي، د مرکزي تفتیش عمومي رئیس محترم شیخ عبدالرحمن (فراهي) په مشرۍ، چې د جنوب لوېدیځ زون د تفتیش رئیس محترم مولوي سراج احمد (ابوسعید)، مولوي محمد فقیر (حنیف) او مفتي محمد اسلام (مسلم) یې غړیتوب درلود؛ د روان ۷۴۴۱هـ ق کال د صفرالمظفر میاشتې په ۳مه نېټه د هرات ولایت د محاکمو د تېرو فعالیتونو د څېړنو په موخه یاد ولایت ته سفر وکړ.

دغه پلاوي د سفر او لیدنې په پیل کې د هرات ولایت د مرافعه محکمې له رئیس سره وکتل؛ ورپسې یې د بندیانو ستونزو د څېړلو په موخه د یاد ولایت له مرکزي زندان څخه لیدنه وکړه، د زندان اړوند ټولو بندیانو بشپړ شهرت، کیفیت، غوښتنې او اړتیاوې یې له ځان سره ولیکل او بیا یې له اړوند محاکمو سره شریک کړل.

ټاکل شوي پلاوي د خپل کاري پلان له مخې د هرات ولایت د (۹۱) ولسوالیو له ابتدائیه محاکمو، ښاري او مرافعه محاکمو اړوند دېوانونو، وثایقو آمریت، مخزن، حقوقو آمریت اختصاصي او نظامي ابتدائیه محاکمو څخه په جلا جلا ډول لیدنه وکړه. دغه پلاوي د څارنې بهیر په ترځ کې د یادو محاکمو له قضائي، اداري او مالي چارو هر اړخیزه پلټنه وکړه، د محاکمو د قضائي غړو او اداري کارکوونکو د سلوکي او مسلکي اړخونو معلومات یې واخیستل او د چارو د سمون په برخه کې یې ورته لازمي لارښوونې وکړې.

د قضائي تفتیش پلاوي د محاکمو اړوند شته ستونزې او کاري خنډونه له ځان سره ولیکل او د لیدنې په وروستیو کې یې د ستونزو د حل، خنډونو د له منځه وړلو، د شته نېمګړتیاوو د اکمال په اړه د یاد ولایت د مرافعه محکمې له رئیس سره تفاهمي ناسته وکړه او ځینې ستونزې یې په جلا جلا توګه ورسره شریکې کړې.

دغه پلاوي د څارنې او لیدنې په دوام د هرات ولایت له والي، علماوو شورا او د ولسوالیو له ځینو مسؤولینو سره ناستې وکړې او د محاکمو د فعالیتونو د لا ښه پرمختګ او د ځینو اړوند ستونزو د حل په موخه یې د هغوی نظرونه واورېدل.

د قضائي تفتیش د څارنې او پلټنې پلاوي یاد له لاسته راوړنو ډک سفر د ۷۴۴۱هـ ق کال د ربیع الأول میاشتې په ۳مه نېټه پای ته ورسېد.

## د کابل ښار د سندونو او وثیقو د ثبت شپږو آمریتونو په دوو اونیو کې (۱۳۱۰) بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي

د کابل ښار د سندونو او وثیقو د ثبت شپږو آمریتونو په دوو اونیو کې له ( ۶۱/ ۲/ ۷۴۴۱ هـ ق څخه تر ۰۳/ ۲/ ۷۴۴۱ هـ ق) نېټې پورې (۰۱۳۱) بېلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

**۱- د سندونو او وثیقو د ثبت لومړی حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت لومړۍ حوزې په دوو اونیو کې (۹۷) نکاح خطونه، (۷۲) قبالې، (۴۱) زوجیت خطونه او (۷۵) نورې بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۲- د سندونو او وثیقو د ثبت دویمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت دویمې حوزې په دوو اونیو کې (۰۹) نکاح خطونه، (۶) قبالې، (۵) زوجیت خطونه او (۱۹) نورې بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۳- د سندونو او وثیقو د ثبت دریمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت دریمې حوزې په دوو اونیو کې (۲۰۰) نکاح خطونه، (۰۱) قبالې، (۳۱) زوجیت خطونه او (۱۰۱) نورې بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۴- د سندونو او وثیقو د ثبت څلورمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت څلورمې حوزې په دوو اونیو کې (۷۷) نکاح خطونه، (۳۱) قبالې، (۸) زوجیت خطونه او (۵۵) نورې بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۵- د سندونو او وثیقو د ثبت پنځمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت پنځمې حوزې په دوو اونیو کې (۱۶۱) نکاح خطونه، (۶) قبالې، (۷۱) زوجیت خطونه او (۶۹) نورې بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۶- د سندونو او وثیقو د ثبت شپږمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت شپږمې حوزې په دوو اونیو کې (۷۰۱) نکاح خطونه، (۹) قبالې، (۵) زوجیت خطونه او (۳۶) نورې بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي.

## د سترې محکمې متحدالمآلونه

**د متحدالمآل ګڼه: ۷**

**نېټه: ۱۴۴۷/۳/۷ هـ ق**

د سترې محکمې د تمیزونو، ریاستونو او محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: د عفوې او تخفیف محبوسینو د معلوموللو په موخه د محابسو څخه د لیدنې لپاره د هیئت ترکیب.

د سترې محکمې محترم عالي مقام د حکم مورخ ۱۴۴۷/۳/۷هـ.ق په توسط داسې هدایت کړی: "د هیواد دټولو محابسو د هیئتی لپاره دې د لاندې ترکیب مطابق هیئتونه مرکب شي، د ټولو محابسو څخه دې لیدنه وکړي، وروسته دې راپور د سترې محکمې عالي مقام ته راولیږي: د استیناف محکمې رئیس/ د جزاء دیوان رئیس د هیئت د رئیس په حیث، د مربوطه محکمې (مربوطه محکمه که ښاري محکمه وي که ابتدائیه محکمه وي) قاضي د عضو په حیث، د قومنداني نمائنده د عضو په حیث، د ولایت یو تن نمائنده د عضو په حیث، د استخباراتو یو تن نمائنده د عضو په حیث، البته دا چې په مرکز کې د محبوسینو شمېر زیات دی یاد هیئتونه دې متعدد شي."

بناءً یاد حکم د اصولي کړنو په موخه تاسو ته واستول شو.

یادونه: د هیئت کاري طریقه په (۳) ورقو کې او د بندیانو معلوماتي فورمونه په (۲) ورقو کې ددې متحدالمآل ضمیمه دي.

**د متحدالمآل ګڼه: ۸**

**نېټه: ۱۴۴۷/۳/۱۳ هـ ق**

د سترې محکمې د تمیزونو، ریاستونو او محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: په تحقیقاتي حالت کې دوسیه د اندراج څخه نه ایستل.

د سترې محکمې قضایي تفتیش عمومي ریاست د محاکمو د اجراآتو په اړه خپل نظر د سترې محکمې محترم عالي مقام ته وړاندې کړی، لنډیز یې داسې دی: "د موضوعاتو د ځنډ یو علت دادی چې ځینې محاکم د ځمکې د موضوعاتو اړوند د قضایای امارت څخه د معلوماتو غوښتنې سره سم دوسیه د اندراج څخه وباسي، د معلوماتو تر رارسېدلو وروسته دوسیه دوهم ځلې اندراج کې ثبتوي، په دغه صورت کې موضوع د محکمې په تحقیقاتي حالت کې قرار لري چې دوسیه د اندراج څخه نه خارج کیږي."

په اړه یې د سترې محکمې محترم عالي مقام د حکم مورخ ۱۴۴۷/۲/۳۰هـ.ق په توسط داسې هدایت کړی: "نظر هیئت مؤظف تر عنوان لاندې چې کوم دوهم نظر لیکل شوی د متحدالمآل په شکل ټولو محاکمو ته واستول شي."

بناءً یاد حکم د اصولي کړنو په موخه تاسو ته واستول شو.

### د راشده خلافت په دوره کې قضاء:

**هغه مهم کارونه چې د ابوبکر ﵁ د خلافت په دوره کې ترسره شوي**

**نهمه برخه**

یوه روایت کې راځي، کله چې ابوبکر ﵁ د اسامه ﵁ د لښکر د تجهیزولو هوډ وکړ؛ نو ځینو انصارو عمر ﵁ ته وویل: اې عمر فاروقه ﵁ ته ابوبکر ﵁ ته ووایه، چې له اسامه پرته بل څوک پر موږ امیر کړي؛ نو عمر هم دا خبره ور ورسوله، ابوبکر ﵁ دی تر ږیرې ونیولو او وویل: اې عمره! مور دې درباندې بوره شي، زه د رسول الله ﷺ له امر پرته بل څه باندې امر وکړم؟ له دې وروسته خپله «جرف» ته لاړ، د اسامه لښکر یې برابر کړ او د تګ امر یې ورته وکړ، له دوی سره په پښو روان شو، اسامه سپور و او د ابوبکر صدیق ﵁ سپرلۍ عبدالرحمن بن عوف ﵁ روانه کړې وه؛ نو اسامه وویل: اې د رسول الله ﷺ ځای ناستیه! یا به ته هم پر سورلۍ سپرېږې او یا به زه هم کښته کېږم، ابوبکر ﵁ وویل: زما دې په الله قسم وي، چې نه به ته راکښته کېږې او نه زه پر سورلۍ سپرېږم، له دې وروسته ابوبکر ﵁ له اسامه څخه روان شو او دی یې عمر ﵁ ته پرېښود. عمر ﵁ د اسامه لښکر کې و؛ نو له همدې وجې به هر کله چې عمر ﵁ له اسامه سره مخ کېدلو، ورته ویل به یې: « السلام علیک أیها الأمیر» اې مشره! پر تا دې سلام وي.

اخذلیک: تتمة النظام، ۵۹ صفحه، تألیف: قاضي القضات شیخ عبدالحکیم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحیم راشد

## حکم جزای تعزیری بالای یک متهم در ولایت تخار تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی درقد ولایت تخار بالای یک تن به اتهام فعل زنا؛ روز یکشنبه مؤرخ ۱۴/ ۳/ ۱۴۴۷ هـ ق حکم جزای تعزیری تطبیق شد. محکمهٔ ابتدائیهٔ متهم مذکور را به چهار سال حبس تنفیذی و ۳۹ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بود؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه بالای متهم تطبیق شد.

## په غزني ولایت کې دوو متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د غزني ولایت قره باغ ولسوالۍ ابتدائیه محکمې د پرېکړې له مخې دوو کسانو ته چې پر لواطت متهم وو؛ د سه شنبې په ورځ ۱۶/ ۳/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټه په عام محضر کې تعزیري سزا ورکړل شوه. ابتدائیه محکمې یاد کسان پر درې ـ درې کاله تنفیذي بند او ۳۹ـ ۳۹ دُرو تعزیري سزا محکوم کړي وو؛ چې یاده پرېکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائید وروسته پر متهمینو تطبیق شوه.

## محترم مولوي موسی کلیم (برهاني) د زابل ولایت د ښاري ابتدائیه محکمې د نوي رئیس په توګه معرفي شو

د زابل ولایت مرافعه محکمې رئیس محترم مفتي عبدالجلیل (سفیان) لخوا په ۹/ ۳/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټه د زابل ولایت د ښاري ابتدائیه محکمې نوی رئیس محترم مولوي موسي کلیم (برهاني) د یوې غونډې په ترڅ کې د یادې محکمې قضائي غړو او اداري کارکوونکو ته ور وپېژندل شو.

غونډه د قرآنکریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه؛ ورپسې محترم سفیان صاحب د اطاعت او په نظام کې د تغیر او تبدیل د اهمیت په اړه تفصیلي خبرې وکړې.

د مرافعه محکمې رئیس زیاته کړه، د محاکمو مسؤولین باید د خپلو چارو د ښه ترسره کولو په موخه د اړوند ادارو له مسؤولینو سره پوره همغږي ولري.

د مرافعه محکمې رئیس د ښاري محکمې د پخواني رئیس مفتي فضل الرحمن (فضلي) د تېرو خدمتونو او کړنو ستاینه وکړه، هغه یې په خپلو چارو کې بریالی شخص یاد کړ او نوي رئیس ته یې د ښه راغلاست ترڅنګ د هر اړخیزې همکارۍ ډاډ ورکړ.

د مرافعه محکمې رئیس ټولو قضائي او اداري کارکوونکو ته هدایت وکړ، چې د نوي رئیس به هم همداسې اطاعت کوئ، لکه څنګه مو چې د پخواني رئیس کاوه. غونډه د دعاء په ویلو پای ته ورسېده.

## رئیس محکمهٔ مرافعهٔ ولایت غزنی از محاکم ولسوالی‌های جاغوری، مالستان، اجیرستان و ناور آن ولایت بازدید نمود

محترم مفتی عزیزالله (حیدری) رئیس محکمهٔ مرافعهٔ ولایت غزنی با معیتی هیئت همراه اش به تاریخ (۲۹ صفرالمظفر الی ۲ ربیع الاول سال ۱٤٤٧هـ ق) از محاکم و مدیریت‌های حقوق ولسوالی‌های جاغوری، مالستان، اجیرستان و ناور آن ولایت بازدید نمود.

در این بازدید ابتداء رئیس محکمهٔ مرافعه کتب اندراج حقوقی و جزائی، ثبت عرایض، حاضری، وارده و صادره، شهریه و کتاب ثبت وثایق محاکم متذکره را مورد بررسی قرار داد؛ سپس یک یک نمونه از دوسیه های حقوقی و جزائی آن محاکم را بررسی نمود و به مسؤولین محاکم ابتدائیه متذکره در موارد ذیل توصیه‌های لازم نمود:

۱ـ اشتراک مسؤولین محاکم در جلسات امنیتی و اداری، رویه و رفتار نیک با مراجعین و پیشبرد دوسیه های آنها به وقت و زمان معین.

۲ـ توجهٔ خاص به فرامین و متحدالمآل‌های شورای عالی ستره محکمه، توجه به ارسال راپورهای حاضری و اجراآت آن محاکم به وقت معینه و ترتیب درست وثایق.

در اخیر مسؤولین محاکم متذکره از بازدید رئیس محکمهٔ مرافعه و هیئت همراه اش ابراز خرسندی نموده و در راستای پیشبرد درست کارهای محولهٔ خویش به رئیس محکمهٔ مرافعه اطمینان کامل داده‌اند.

## یک هیئت محکمهٔ مرافعهٔ ولایت بادغیس از محکمهٔ ابتدائیه ولسوالی آبکمری آن ولایت بازدید نمود

مطابق هدایت محکمهٔ مرافعهٔ ولایت بادغیس به منظور پیشبرد روند سریع کاری محاکم ابتدائیه ولسوالی ها، به تاریخ ۸ /۳ /۱۴۴۷ هـ ق مولوی بهاالدین (رحمت) عضو و مفتی دیوان امنیت عامه محکمهٔ مرافعهٔ، به همراهی مولوی محمد هاشم عضو و مفتی دیوان امنیت عامه محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری و مولوی عبدالجمیل (حنیف) آمر دعوت و ارشاد مرافعهٔ، از اجراآت محکمهٔ ابتدائیه ولسوالی آبکمری بازدید نمودند.

در ابتداء این بازدید مولوی محمد حسین (محمدی) رئیس محکمهٔ ابتدائیهٔ مذکور تشریف آوری هیئت موظف را خیر مقدم گفت؛ سپس هیئت موظف با مسؤولین ملکی و نظامی ولسوالی آبکمری در مقر محکمهٔ مذکور بازدید نمودند.

در ادامه هیئت موظف از دفتر حاضری، ثبت اندراج های جزائی و حقوقی، دفتر شهریه، کتاب ثبت عرایض، فیصله ها، قرار های قضائی و کتب وثایق را مورد بررسی قرار دادند و در موارد مختلف برای مسؤولین و منسوبین موظف رهنمائی های لازمه را ارایه نمودند.

## رئیس محکمهٔ مرافعهٔ ولایت بدخشان از دیوان های محاکم مرافعهٔ و ابتدائیهٔ شهری آن ولایت بازدید نمود

محترم الحاج مولوی محمد صابر (حنفی) رئیس محکمهٔ مرافعهٔ ولایت بدخشان؛ به تاریخ ۸ /۳ /۱۴۴۷ هـ ق جهت شفافیت اجراآت دفاتر اداری، کتاب های اندراج حقوقی و جزائی، کتاب وارده و صادره، کتاب رسیدات، پارچه جلب و کتاب های ثبت عرایض، بخش اجراآت اداری دیوان های محاکم مرافعهٔ، ابتدائیهٔ شهری و تحریرات را به شمول مدیریت های اجرائیه، مالی و اداری نظارت و بررسی نمود.

در جریان بررسی رئیس محکمهٔ مرافعه در مورد کمی و کاستی که در اجراآت اداری ملاحظه گردید رهنمائی لازم برای شان نمود و برای کارمندان اداری در موارد ذیل توصیه های لازم صورت گرفت:

۱ـ در اجراآت اداری سرعت بخشیده و برای مراجعین زمینه سهولت را مساعد سازند.

۲ـ رویه نیک و سلوک احسن با مراجعین را رعایت نمایند.

۳ـ سیرت و صورت خود را مطابق به سنت نبوی (صلی الله علیه وسلم) عیار سازند.

۴ـ در صورت کدام مشکل با مراجعین محکمهٔ مرافعه را در جریان قرار دهند؛ تا مطابق به اصول به رویه سالم قناعت شان فراهم گردد.

## دکندهار ولایت مرافعه محکمې رئیس د یاد ولایت له زندان څخه لیدنه وکړه

د کندهار ولایت مرافعه محکمې رئیس محترم شیخ غلام حضرت (ابوالمنذر) په مشرۍ؛ یو پلاوي چې د ولایت مقام مرستیال، د استخباراتو ریاست رئیس، د عدلیې، د امربالمعروف او نهي عن المنکر، امنیه قوماندانۍ، پوهنې او د حج او اوقافو ریاستونو استازو په کې ګډون درلود، په ۷/ ۳/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټه د یاد ولایت له زندان څخه لیدنه وکړه.

د لیدنې په پیل کې یاد پلاوي د زندان له مسؤولینو سره ناسته وکړه، په ناسته کې د بندیانو پر ستونزو او حل لارو یې بحث وشو.

د مرافعه محکمې رئیس لخوا د محبس مسؤولینو ته د بندیانو د تعلیم او تربیې مهالویش ورکړل شو؛ تر څو د یاد مهالو ش له مخې د مجربو علماوو او استادانو لخوا تدریس ورکړل شي.

دغه راز یاد پلاوي د ښځو له محبس څخه هم لیدنه وکړه، د هغوی ستونزې او غوښتنې یې واورېدې او مسؤولینو ته د یادو غوښتنو د پوره کولو په اړه لازم هدایات وکړل.

د یادونې وړ ده چې یاد پلاوي په ۳ /۳ /۱۴۴۷ هـ ق نېټه پر نشه یي توکو د روږدو له زندان څخه هم لیدنه کړې وه؛ د بندیانو ستونزې یې له نږدې اورېدلې وي او د ستونزو د حل اړه مسؤولینو ته لازم هدایات کړي وو.

## یک هیئت موظف محکمهٔ مرافعهٔ ولایت هرات از محبس عمومی آن ولایت بازدید نمود

مطابق هدایت رئیس عمومی محکمهٔ مرافعهٔ ولایت هرات، به تاریخ ۹ /۳ /۱٤٤٧ هـ ق یک هیئت موظف تحت ریاست مفتی کمال الدین (دیوبندی) رئیس دیوان امنیت عامه مرافعه، با همراهی مفتی عبدالرحمن (مسلمیار) عضو مفتی دیوان جزاء مرافعه، مولوی خان محمد (حنفی) رئیس دیوان امنیت عامه محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری و مولوی نوراحمد (ثاقب) عضو مفتی دیوان جزاء محکمهٔ شهری از محبوسین طبقه اناث ریاست تنظیم امور زندان های ولایت هرات بازدید به عمل آوردند.

در این بازدید هیئت موظف مشکلات زندانیان طبقه اناث را در چند کتگوری خاص که عبارت از نوع جرم، تاریخ توقیف، سرنوشت محبوس، تاریخ واقعه و تصامیم محکمهٔ مربوطه در قضایای مربوطه شان پرسش و اظهارات شان را استماع نمودند.

همچنان برای محبوسین طبقه اناث اطمینان دادند، که راجع به قضایای مربوطه و تعین سرنوشت شان از سلسله محاکم مربوطه اجراآت شرعی و اصولی صورت میگیرد و سعی خواهند شد تا هیچ محبوس بدون سرنوشت در زندان باقی نماند.

پرسونل محبس از بازدید هیئت محترم نیکویش نمودند.

قابل ذکر است که بعد از بازدید و ارایه گزارش هیئت موظف رئیس محکمهٔ مرافعه راجع به پیشنهادات محبوسین طبقه اناث عنوانی محاکم مربوطه هدایت لازم نمود.

## رئیس محکمهٔ مرافعهٔ ولایت بغلان از هفت محاکم ابتدائیه ولسوالی‌های آن ولایت بازدید نمود

محترم مولوی شمس الله (عزیزی) رئیس عمومی محکمهٔ مرافعهٔ ولایت بغلان؛ با همراهی مولوی عبدالمتین (قریشی) قوماندان قطعه مفرزه محاکم، مولوی نادر شاه (حنفی) آمر حقوق و لطف الله (همت ) مدیر مالی، از هشتم الی یازدهم ماه ربیع الأول سال ١٤٤٧ هـ ق از محاکم ابتدائیه ولسوالی‌های بغلان مرکزی، ولسوالی نهرین، برکه، جلگه، خوست، فرنگ وگذرگاه نور دیدن به عمل آورد.

در این بازدید رئیس محکمهٔ مرافعه در ضمن هیئتی از محاکم ابتدائیه متذکره و بازدید اعضای قضائی و اداری محاکم با مسؤولین نظامی و ملکی ولسوالی‌های متذکره نیز دیدن نمود.

در ادامه این دیدار رئیس محکمهٔ مرافعه در ارتباط به هماهنگی، تطبیق احکام و اوامر الهی صحبت های همه جانبه نمود و غرض رفع مشکلات و عدم ایجاد سرگردانی برای خلق الله نیز تاکید ورزید.

## محاکم ولایت لوگر طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۲۶۵) دوسیه، به تعداد (۲۲۷) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت لوگر، دواوین مرافعه، وثایق، محاکم ابتدائیهٔ شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌های از تاریخ (۱/ ۲/ ۱۴۴۷ هـ ق الی ۳۰/ ۲/ ۱۴۴۷ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۲۲۸) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۸۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۷) دوسیه فیصله شده، (۳۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۱۰۴) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۷۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۶) دوسیه فیصله شده، (۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت لوگر به تعداد (۲۲۷) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت پروان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۲۰۸) دوسیه، به تعداد (۲۴۵) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت پروان، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱۹/ ۲/ ۱۴۴۷ هـ ق الی ۶/ ۳/ ۱۴۴۷ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۴۵) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۶۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۳) دوسیه فیصله شده، (۲۷) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۹۹) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۵۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۰) دوسیه فیصله شده، (۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت پروان به تعداد (۲۴۵) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم سمنگان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۱۷۸) دوسیه، به تعداد (۷۰) قطعه وثایق نیز اجرا نموده‌است

خلاصه اجراآت قضائی محاکم ولایت سمنگان، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۲۲/ ۲/ ١٤٤٧هـ ق الی ۴/ ۳/ ۱۴۴۷هـ ق) به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۸۰) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۴۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۹) دوسیه فیصله شده، (۱۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۸۵) دوسیه وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۶۴) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۰) دوسیه فیصله شده، (۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت سمنگان به تعداد (۷۰) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## د ننګرهار ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۳۳۱) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۱۳۷) وثیقې هم اجرا کړې دي

د ننګرهار ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه، د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو او وثایقو آمریت په دوو اونیو کې له (۱/ ۱/ ۱۴۴۷هـ ق څخه تر ۱۶/ ۱/ ۱۴۴۷هـ ق) نېټې پورې (۳۳۱) دوسیو ته رسېدنه کړې او (۱۳۷) وثیقې یې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

د ننګرهار ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۱۶۷) حقوقي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۰۰) دوسیو په تړاو قضائي قراروونه صادر شوي، (۳۰) دوسیې فیصله شوې، (۳۰) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د ننګرهار ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۱۷۷) جزائي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۴۹) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۵۵) دوسیې فیصله شوې، (۹) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په تجارتي برخه کې:**

د ننګرهار ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۴۲) تجارتي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۲۲) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۴) دوسیې فیصله شوې، (۲۲) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د ننګرهار ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۱۳۷) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## د کندهار ولایت ښاري ابتدائیه محکمې په یوه میاشت کې (۳۱۰) دوسیو ته رسېدنه کړې ده

د کندهار ولایت ښاري ابتدائیه محکمې په یوه میاشت کې له (۱/ ۲/ ۱۴۴۷ هـ ق څخه تر (۱/ ۳/ ۱۴۴۷ هـ ق) نېټې پورې په حقوقي او جزائي برخو کې (۳۱۰) دوسیو ته رسېدنه کړې ده؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

د کندهار ولایت ښاري ابتدائیه محکمې په یوه میاشت کې (۹۱) حقوقي دوسیو ته رسېدنه کړې ده.

له دې جملې څخه د (۱۵) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي او (۷۶) دوسیې فیصله شوې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د کندهار ولایت ښاري ابتدائیه محکمې په یوه میاشت کې (۲۱۹) جزائي دوسیو ته رسېدنه کړې ده.

له دې جملې څخه د (۶۸) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي او (۱۵۱) دوسیې فیصله شوې دي.

## د کابل ښاري ابتدائیه محکمې اړوند څلورو زونونو په دوو اونیو کې (۹۲۳) دوسیو ته رسېدنه کړې ده

د کابل ښاري ابتدائیه محکمې اړوند څلورو زونونو په دوو اونیو کې له (۱۶/ ۲/ ۱۴۴۷هـ ق څخه تر ۳۰/ ۲/ ۱۴۴۷هـ ق نېټې) پورې په جزائي، حقوقي او تجارتي برخو کې (۹۲۳) دوسیو ته رسېدنه کړې ده؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**۱ - په جزائي برخه کې:**

د کابل د ابتدائیه محکمې اړوند څلورو زونونو ته په دوو اونیو کې (۵۱۲) جزائي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۴۷) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۳۱۵) دوسیې فیصله شوې، (۶۳) دوسیې مکتوبي اجرا شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**۲. په حقوقي برخه کې:**

د کابل د ابتدائیه محکمې اړوند څلورو زونونو ته په دوو اونیو کې (۲۶۹) حقوقي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۴۷) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۴۵) دوسیې فیصله شوې، (۴۸) دوسیې مکتوبي اجرا شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**۳. په تجارتي برخه کې:**

د کابل ښار د ابتدائیه محاکمو څلورو زونونو ته په دوو اونیو کې (۲۹۰) تجارتي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۳۴) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۹۶) دوسیې فیصله شوې، (۲۸) دوسیې مکتوبي اجرا شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

## هیئت ریاست دعوت و ارشاد ستره محکمه به ولایت هرات سفر نمود

هیئت ریاست دعوت و ارشاد ستره محکمه تحت ریاست محترم حافظ مولوی عبدالعزیز (میوندی) رئیس دعوت و ارشاد با همراهی مفتی عبدالمالک (انقیادی) مدرس آن ریاست و مفتی عبدالباری (داعی) مدیر عمومی دعوت و ارشاد ریاست امور امنیتی و اجرائیوی ستره محکمه، به تاریخ ۲ /۳ /١٤٤٧هـ ق به ولایت هرات سفر نمود.

هیئت دعوت و ارشاد ابتداء جلسهٔ با اشتراک رئیس عمومی محکمهٔ مرافعه، رئیس محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری، منسوبین قضائی و اداری و خدماتی محاکم مرافعه و ابتدائیهٔ شهری دایر نمود؛ سپس مفتی عبدالباری (داعی) هدف از سفرشان را بیان نمود گفت، در زمان حضرت محمد مصطفی (صلی‌الله علیه وسلم) وظیفهٔ صحابه کرام نیز دعوت و ارشاد بود، بنابر این از همه پرسونل اداری محاکم و مجاهدین خواهشمندیم تا در اجراآت و وظایف محولهٔ خویش اخلاص را رعایت کند و مخلصانه وظایف خود را به پیش ببرند؛ زیرا اخلاص کلید قبولی اعمال می‌باشد، در اعمال خود اخلاص را مد نظر بگیرید و خیرخواهی بین مسلمانان را اختیار نمائید.

همچنان طی جلسات دیگری در آن ولایت مولوی عبدالمالک (انقیادی) مدرس ریاست دعوت و ارشاد برای منسوبین اداری و مجاهدین قوماندانی امنیتی محکمهٔ مرافعه و قوماندانی امنیتی محکمهٔ نظامی زون جنوب غرب و قوماندانی امنیتی محکمهٔ اختصاصی جلوگیری از غصب املاک امارتی زون ولایت هرات صحبت نمود و راجع به صورت و سیرت مجاهدین و کارمندان اداری توصیه‌های لازم را بیان نمود.

سرپرست مسؤول مدير: مولوي عبدالرحيم (راشد)
اديتور : جوادالله (جاهد)
ډيزاين: حميدالله (راسخ)

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه خړګندويه خپرونه
په مياشت کې درې ځله چاپيږي

## دکابل ولايت د نشه‌يي توکو او مسکراتو څخه د مخنيوي ابتدائيه محکمې لخوا (۱۲) مجرمينو ته تعزيري سزا ورکړل شوه

د کابل ولايت د نشه‌يي توکو او مسکراتو څخه د مخنيوي ابتدائيه محکمې د پرېکړې له مخې (۱۲) کسانو ته د نشه‌يي تابليتو (ذيکپ او تابليت کا) الکولي مشروباتو، شيشې او چرسو د خرڅلاو او قاچاق په جرمونو، په دوشنبې ورځ کې ۸/ ۳/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټه تعزيري سزا ورکړل شوه. ابتدائيه محکمې ياد مجرمين له اوو مياشتو څخه تر دوو کالو پر تنفيذي بند او له ۱۰ څخه تر ۳۹ دُرو پر تعزيري سزا محکوم کړي وو. ياده پرېکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائيد وروسته پر مجرمينو تطبيق شوه.

## حکم جزای تعزيری بالای هفت متهم در ولايت بدخشان تطبيق شد

به اساس فيصلهٔ ديوان جزا محکمهٔ ابتدائيهٔ شهری ولايت بدخشان بالای هفت تن به شمول سه زن به اتهام فعل زنا و سرقت، روز يکشنبه مؤرخ ۷/ ۳/ ۱۴۴۷هـ ق حکم جزای تعزيری تطبيق شد. ديوان جزا متهمين مذکور را از يک الی دو نيم سال حبس تنفيذی و ۳۹ ـ ۳۹ دُره جزای تعزيری محکوم کرده بودند؛ که اين فيصله بعد از تائيد مقام عالی ستره محکمه تطبيق شد. حکم جزای تعزيری در حضور محترم الحاج مولوی محمد صابر (حنفی) رئيس محکمهٔ مرافعه، اعضای قضائی، اعضای شورای علماء، مسؤولين رياست محبس، نمايندگان قوماندانی امنيه، مديريت مواد مخدر، کارمندان خدماتی و چند تن از متنفذين قومی تطبيق شد.

## يک باب مسجد از طرف معاون اداری ستره محکمه در محوطهٔ محکمهٔ مرافعهٔ ولايت لوگر افتتاح شد

يک باب مسجد از طرف محترم شيخ عبدالمالک (حقانی) معاون اداری ستره محکمه؛ به همراهی محترم الحاج مولوی کريم الله (زاهد) رئيس عمومی مالی و اداری ستره محکمه و با حضورداشت رئيس محکمهٔ مرافعهٔ ولايت لوگر، رئيس حج و اوقاف، معاون مقام ولايت و مسؤول شورای علماء، روز دوشنبه مؤرخ ۸/ ۳/ ۱۴۴۷هـ ق که در محوطهٔ محکمهٔ مرافعهٔ ولايت لوگر اعمار گرديده بود؛ افتتاح شد.

محترم شيخ عبدالمالک (حقانی) معاون اداری ستره محکمه و ديگر مسؤولين در مورد اهميت اعمار مسجد صحبت های همه جانبه نمودند.

اين مسجد به اساس پيشنهاد محکمهٔ مرافعهٔ ولايت لوگر و منظوری عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه الله تعالی) در داخل محوطهٔ محکمهٔ مرافعه بطور اساسی و پخته کاری، در دو منزل به مساحت (۱۱۰) متر مربع از سوی وزارت حج و اوقاف به هزينهٔ چهار ميليون، نه صد، نود چهار هزار، پنجصد و چهل شش (۴۹۹۴۵۴۶) افغانی ساخته شد که ظرفيت (۵۰۰) نمازگذار را در يک وقت دارا ميباشد.

مراسم افتتاحيه با دعاء خير توسط مولوی فضل الرحيم (عابد) رئيس ديوان جزاء محکمهٔ مرافعه خاتمه يافت.

قابل ذکر است که از طرف عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه الله تعالی) و محترم شيخ عبدالحکيم (حقانی) قاضی القضات و رئيس ستره محکمه فرش و نصب پرده های آن به قيمت پنج لک، چهارده هزار، يک صد و پنجاه (٥١٤١٥٠) افغانی از بودجه مقام عالی ستره محکمه تکميل و به بهره برداری سپرده شد.

## دکونړ ولايت محاکمو د قتل پر يوه موضوع سربېره د دوو کورنيو ترمنځ ۵۰ کلنه دښمني حل کړه

د کونړ ولايت دره‌پېچ ولسوالۍ ابتدائيه محکمې مسؤولينو په هڅو د صفرالمظفر مياشتې په ۲۹مه نېټه د قتل يوه موضوع حل، او د دغه ولايت د وټه‌پور ولسوالۍ ابتدائيه محکمې د مسؤولينو په هڅو په ۱۴۴۷/۳/۲۸هـ ق نېټه د دوو کورنيو ترمنځ د ځمکې پر سر رامنځته شوې ۵۰ کلنه دښمني پای ته ورسېده. د دره‌پېچ او وټه‌پور ولسواليو ابتدائيه محاکمو مسؤولينو د قضيو ښکېل لوري سولې ته وهڅول، دوی هم سولې ته غاړه کېښوده او ترمنځ يې رامنځته شوي موضوعات په رسمي ډول پای ته ورسېدل.

## د اجراآتو ارزونې او ظرفيت لوړونې رياست لخوا د (۳۳) ولايتونو اړوند محاکمو اداري کارکوونکو ته د ظرفيت لوړونې شپږ ورځنۍ روزنيز پروګرامونه پای ته ورسېدل

د سترې محکمې د اجراآتو ارزونې او ظرفيت لوړونې رياست د محاکمو د اداري چارو د لا تقويې او په دې برخه کې د اړوند کارکوونکو د ظرفيت لوړونې په موخه د هېواد د (۳۳) ولايتونو محاکمو اداري کارکوونکو ته جوړ شوي رزونيز پروګرامونه د روان ۱۴۴۷ هـ ق کال د ربيع الأول مياشتې په ۱۱مه نېټه پای ته ورسېدل.


د اجراآتو ارزونې او ظرفيت لوړونې رياست په دغه روزنيزو پروګرامونو کې چې په پنځو دورو کې بشپړ شول، د هېواد د محاکمو (۹۱۳) اداري کارکوونکو ته د مسلکي استادانو لخوا د وثايقو ثبت، اندراجو د ثبت سيستم، پلان جوړونې، اداري مراسلاتو، اجراآتو ارزونې، مديريت، رهبری، تدارکاتو، بودجې مصرف، خبر جوړولو او نورو ضروري برخو کې په نظري او عملي ډول تدريس وشو.


د يادو روزنيزو پروګرامونو د پيل او پای په مناسبت جوړو شوو غونډو کې د سترې محکمې اداري مرستيال محترم شيخ عبدالمالک (حقاني)، د قضائي زده کړو عمومي رئيس محترم شيخ قيام الدين (قانت)، د اجراآتو ارزونې او ظرفيت لوړونې رئيس محترم حافظ نصير احمد (صياد)، د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رئيس محترم مولوي عبدالرحيم (راشد) او د سترې محکمې يو شمېر نورو مسؤولينو ګډون درلود.


د سترې محکمې اداري مرستيال او نورو مسؤولينو د دغه روزنيزو پروګرامونو د جوړېدو عمده موخه د محاکمو د اداري چارو ښه او پر وخت ترسره کېدل وبلل وويل، په دغه روزنيزو پروګرامونو کې مسلکي استادان د بېلا بېلو اداري چارو په اړه نظري او عملي تدريس کوي، تول ګډونوال بايد په پوره امانتدارۍ او صداقت درسونو کې فعال ګډون ولري.

د سترې محکمې محترمو مسؤولينو د دغه روزنيزو پروګرامونو ګډونوالو ته په ويناوو کې هدايت وکړ چې په سيمينار کې تدريس شوي موضوعات زده او په خپلو ورځنيو چارو کې ترې پوره ګټه واخلئ، در سپارل شوي چارې مو په ټاکلي وخت ترسره کوئ.

د سترې محکمې محترمو مسؤولينو زياته کړه، که تاسو اداري کارکوونکي خپلې چارې په مسلکي او اصولي ډول ترسره کړئ؛ نو د مراجعينو مشکلات به حل او له سرګردانۍ به خلاص وي، په دې کار به هم د الله تعالی رضاء حاصله کړئ او هم به مو پر محاکمو د هېوادوالو باور زيات کړی وي.




ميزان

د ليکوال پلاوي تر څارنې لاندې
پته : ستره محکمه، د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رياست

publications.sc١٤٤٣@gmail.com
www.supremecourt.gov.af

د ټليفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳٦۱
۰۲۰۲۳۰۲۲٦۳